# په افغانستان کې د امریکا د متحده آیالاتو د شکست اناتومي

لیکوال:Mohammed Daud Miraki, MA, MA, PhD
ژباړن: شیرین اغا جهانګیر
۲۰۱۰-۰۱-۱۵
رباط سنګی هرات

په افغانستان کې د اوباما د ادارې د منتظرې پرېکړې نوي استراتیژۍ ته په پام سره په افغانستان کې حالات تردې حده پورې خراب شوي چې اوس د امریکا نظامي قمندانان د «ماتې» کلمه واشنګټن ته په خپلو راپورونو کې استعمالوي.

د «ماتې» کلمه د فوځ په واسطه په نادره توګه کارول شوېده؛ په هر حال، افغانستان یوه استثنا ده، چېرته چې ماتې یوه واقعي پایله ده. د کومه نه چې پښتانه په سیمه کې مېشته شویدي، دلته ماتې یو حقیقت دی چې ټول یرغلګر ورسره مخامخ شوي دي. د پښتنو مقاومت د متعددو فکتورونو څخه یو فکتور دی چې د امریکا د متحده آیالاتو ماتې په افغانستان کې تشریح کوي، چېرته چې د ماتې ضرورت د امریکا د متحده آیالاتو او ناټو لپاره یو مسلم امر دی.

## د شکست (ماتې) فکتورونه

## امریکایي فوځ افغانانو (پښتنو) ته ارزښت نه دی ورکړی

کله چې د ازبکستان د خان آباد په هوایي اډه کې امریکنې فوځونه ښکته شول، دوی مطمئن ول چې د طالبانو ماتې او د افغانستان اشغال حتمي دی. د دوي کړه وړه بې له حده امریکنۍ ډوله باوري کړی شوي وو او په پوره توګه د افغاني تاریخ نه بې خبره ول. طبیعتاً دوي دا طمع هم نه لرله چې دومره د پام وړ مرګ ژوبله به دوي ته ور پېښ شي. په هر حال؛ د دوي د ډار نه زیات امریکني تلفات جوته شول. د امریکني فوځ بې حده باور د (IWPR) په یو راپور کې په لاندې ډول شرح شوی وو:

* ... کله چې په اکتوبر کې امریکایان په هوایي ډګر کې په ښکته کېدو پیل وکړ، دوي بې حده خوشحاله ول، او خپلو ازبکو ملګرو ته به یې ویل چې د طالبانو ماتې به د یو، یو نیم میاشت نه زیات دوام ونکړي.... *

راپور زیاتوي:

* ازبک کارکوونکی چې په هوایي اډه کې یې کار کاوه، وویل چې د امریکنی تلفاتو شمېرې دلته را رسېږې.

يو ازبک چې د امريکې د روغتيايي اداري سره يې په منظمه توګه کار کاوه، وويل چې د نومبر له ۲۵ نه د سامبر تر ۲ پورې د څلورو نه تر پنځو پورې امريکايي چورلکو د را رسېدو شاهد وو چې هره ورځ به يې د ۱۰ نه تر ۱۵ پورې امريکايان راوړل*

---

اړيکه: د متحده آيالاتو تلفات:
[http://www.iwpr.net/?p=rca&s=f&o=162298&apc_state=henirca2001](http://www.iwpr.net/?p=rca&s=f&o=162298&apc_state=henirca2001)

هغه ټېپي سرتېرى چې له افغانستانه بېرته راشتون شوي وو، د خپل شکست ناپذيرى په ناڅاپي بدلون نا اميده شوي وو. په اډه کې د ټېپي سرتېرو نااميدي ورځنى ليده کاته او شورماشور کم کړى وو. دا همغه سرتيري ول چې افغانستان ته د راننوتو نه وړاندې يې د اتلولۍ فکرونه په سر کې لرل.

د همدې ډول تجربو راپورنه د افغانستان په نورو برخو کې هم ورکول شوي وو. د بېلګې په توګه، د ۲۰۰۲ کال د Anaconda په عملياتو کې امريکا ستر جګړه ائيز ځواک کارولى وو تر څو د افغانستان په جنوب، شاهي کوټ کې يو طالب قمندان چې سيف الرحمان منصور نومېده، له پښو وغورځوي. امريکايانو ګمان کاوه چې کولاى شي چې د ستر هوايي ځواک په لرلو سره افغان مقاومت له منځه يوسي. دوي په دې پوهيدلي ول چې دا ټول پوچ افکار ول. د جګړې پرمهال پنټګان بېلابېل عجيب او غريب ادعاوې کړې وې چې د منصور مقاومت او د ۱۰۰۰ نه زيات طالب جنګيالي يې له منځه وړي دي. حقيقت بل څه وو. امريکايي ځواکونه د اتلولۍ په فکر د جنګ ډګر ته ورغلي وو، مګر دوي سخت حيران شول چې کله يې درنه ضايع وليدله او په کې يې ۱۲ هدف ټاکونکي چورلکې له لاسه ورکړې. د جنګ شدت هله د بېرته نه راګرځېدو مرحلې ته ورسېده چې کله د امريکايي ځانګړو ځواکونو ۲۲ تنه ژوندي ونيول شول. دغه درنه ضايع د ژونديو سرتېرو د نيول کېدو سره دوه برابره شول تر هغه چې د ۲۰۰۲ کال د مارچ په لسمه جنرال ټامي فرانک پرېکړه وکړه چې ۴۰۰ سرتيري بېرته باګرام ته وباسي. رسمي څرګندوني داوې چې په اکثرو برخو کې اخ ډب پاى ته رسېدلي، په داسې حال کې چې رسنيو راپور ورکړه چې سرتيري لا په جګړه کې دي. حقيقت داوه چې په شاتګ د باور د لاس ته راوړلو يوه هڅه وه او موخه يې داوه چې طالبان وهڅوي چې امريکايي فوځ د کومانډو د ۲۲ تنو سرتيرو د را خوشې کولو کې جدي هڅه کوي.

طالب قمندان، مولانا منصور د ۲۲ تنو کومانډو سرتېرو د خلاصون په بدل کې په ګوانتانامو د خليج په زندان کې د ټولو بنديانو د خلاصون غوښتنه کړېوه.

په همدې حال کې؛ لکه څنګه چې د متحده آيالاتو ځواکونه د ټينګ مقاومت سره مخامخ وه، ادعا شوېوه چې ګونديې د ۱۰۰۰ جنګياليو سره په جګړه کې دي، مګر په حقيقت کې ۱۰۰ تنه افغان، ۱۲۰ تنه

ازبک او ۳۰ تنه عرب جنګيالي ول. متحده آيالاتو ادعا کوله چې د ۱۰۰۰ طالب او القاعده جنګيالينو نه يې ۷۰۰ تنه وژلي دي:

*د متحده آيالاتو د فوځ وياند په تېرو ۹ ورځني جګړه کې د تقريباً ۱۰۰۰ تنو اسلامي سخت دريزو نه د ۷۰۰ تنو په شاوخوا کې د مړينې اټکل کړی دی، چې د اتو تنو امريکايانو او دريو تنو افغان متحدينو د مرګ په قميت سره سرته رسيدلی*

اړيکه:

http://abcnews.go.com/International/story?id=80079&page=1

---

د طالبانو او بهرنيو جنګياليو د مړينې شمېره ۸۸ تنو ته ختلې وه (۸ تنه عربان او ډيرې نور يې ازبک ول)، دا په داسې حال کې وو چې د امريکايي، برطانوي او نورو شمېره ډيره لوړه وه. د امريکايي تلفاتو په اړه بيلابيلو رسنيو بېلابېل راپورونه خپاره کړي وو. د بېلګې په توګه: روسي پرليکه ورځپاڼه *STARANA.RU* د ۲۰۰۲ کال د اپريل په ۸ نېټه راپور ورکړه چې د امريکا متحده آيالات ۱۰۰ تنه د ځانګړو ځواکونو سرتيري او ۱۴ ننبه ټاکونکي چورلکي له لاسه ورکړی دی. په داسې حال کې چې د جنګ له ډګر نه لاس ته راغلي مالومات د مړينو شميره ۲۲۸ تنه ښوول. ددغه شمېرې له مخې په جګړه کې د ۱۸۲ تنه امريکايان وژل شوي ول. د کوماندو ځواکونو ۲۲ تنه سرتېرو سرونه هله پرې شول چې کله امريکا دا ونه منله چې د ګوانتانامو بنديان خوشې کړي. ۲۰ تنه برطانويان هله ووژل شول چې د دوي موټر په يو کمين برابر شوی وو. په ۱۸۲ تنه وژل شوو امريکايانو کې هغه کسان هم شامل ول چې په چورلکو کې سپاره ول. د ټولو چورلکو شمېر چې غورځول شوي وو ۱۲ وو

چې له هغې جملې نه دوه يې Chinook او شپږ يې هدف ټاکونکي يا Apache ول چې په پوره ډول له منځه تللي ول او باقي يې د ښکنته کېدو پرمهال راغورځيدلي وو. د کاناډايانو او استرليايانو د مړينې راپور د دوستانه جګړې د قربانيانو په توګه ورکړل شوی وو.

کله چې فوځ دښمن تر حده زيات کمزوری وګڼي او د خپلې روهيې ننداره ورکړي، بيا دا ډول پېښه رامنځ ته کيږي.

## د امريکا په واسطه د بې حده وحشي قوي کارونه او نژاد پرستي

د افراطي ځواکوونو ناسمه کارونه د بې رحمه قتلونو د فردي قضيو سره دوه برابره شوې او د قصد او عکس العمل په بېل والي کې شکنجه ليدل کېده. امريکايي ځواکونه او د هغوي پرسونل بايد هغه کسان چې بمبار کوي او وژني يې، لږتر لږه د بشر په نظر ورته وګوري. که نه نو د ځواکونو بې حده کارونه ، قتل او شکنجه به ددوي رتبې ونه پوخوي. د بېلګې په توګه، د ۲۰۰۲ کال تر اکتوبره پورې، په افغانستان باندې د امريکې د يرغل لومړۍ کليزه، د ۱۰۰۰۰ ټنو څخه زيات بمونه د افغانانو په خاوره باندې ګذار شوي دي( پرليکه سوسياليست کارګر. د ۲۰۰۲ کال د اکتوبر د مياشتې ۱۱ ).

اوس نو د مرګ ژوبلو او الودګې عظمت تصور کړئ چې د همدغو ټول وژنو په سبب رامنځ ته شوي دي. دا په داسې حال کې دي چې د ۲۰۰۱ کال د دسامبر په مياشت کې د Randall Kate يو راپور د امريکايي غورځول شوو بمونو وزن ۱۲۰۰۰ ټنه ښوول شوې وه.

*کله چې د اکتوبر په ۷ نېټه د امريکې متحده آيالات په افغانستان کې جنګ پر لاره اچولی دی، په ملک باندې د ۱۲۰۰۰ بمونو څنې زيات غورځول شوي دي. د پنټګان د وينا سره سم، د دغو بمونو تقريباً ٪۶۰ د سټلايټ يا د لازر ټکنالوژی په واسطه په دقيقه توګه رهنمايي شوي دي. په هر حال، د دغو بمونو ډېری برخه د B52 او نورو الوتکو په واسطه د زرګونو فوټو ټه لوړوالي نه راګذار شوي دي- بې هدفه شوي دي- او عام وګړي يې هدف ټاکلی دی. *(WSWS د ۲۰۰۱ کال د دسامبر ۲۹ )

د ۲۰۰۱ کال د سپټمبر د ۱۱ نه يو کال وروسته په يو بل راپور کې چې د اسوشييټډ پريس له لوري د Mtt Kelly په واسطه خپره شوې وه، د متحده آيالاتو د جنګي تجهيزاتو احصايه يې په لاندې ډول وړاندې کړې وو:

*امريکايي او ايتلافي ځواکونو د ۲۱۰۰۰ نه زيات پروازونه پر افغانستان کړي دي، د ۲۰۰۰۰ نه زيات تجهيزات يې ښکته کړي دي. د دغو غورځونو ٪۶۰ د سټلايټ او يا د لايزر د ټکنالوژی په واسطه دقيق رهنمايي شوي دي چې دا په ټولو جګړو کې لوړه سلنه ده*

د ۲۰۰۱ کال د اپريل په ۱۰ باندې ګارډين هم همداشان راپور خپور کړې وو:

*د ۲۲۰۰۰ زرو نه زياتې وسلې چې کروز توغندي- درانه تيلي هوايي بمونه هم په کې شامل وو ، په تېرو شپږو مياشتو کې په دې هېواد راګذار شوي دي.. امريکايي پيلوټانو د ۶۷۰۰ نه زيات د مستقيمې جګړې وسلې J-dams ، د سټلايټ په واسطه رهنما شوي بمونه.. او داسې نور راغورځولي دي. له هغو بمونو او توغنديو نه چې د متحده آيالاتو په واسطه په افغانستان راغورځول شوي دي، له هرو څلورو نه يو خپل هدف له لاسه ورکړې دی*

د درنو وسلو نوي ډولونه چې سرګلولې يې له يورانيمو څنې جوړې شوي دي، د ځمکې، اوبو او د وګړو په سخت ملوث کولو کې مرسته کوي. هغه ټول وژنه چې د ټول وژنې د وسلو په واسطه رامنځ ته شوې ، لزوماً بايد په همدې ډول پاتې شي. استعمال شوي يورانيم د راديو اکټيو ۴،۵ بليونه کاله تشعشي نيم ژواندې عمر لري. دا په دې مانا ده چې د افغانانو راتلونکي نسلونه به د تل لپاره د سرطان او نورو ناروغيو له کبله مري. په تېرو څوو کلونو کې د سرطان د ناروغۍ د بېلالو ډولونو شمېرې په

ټول افغانستان کې لوړ شوي دي، دا په داسې حال کې ده چې د دغه تهدید ریټ د پښتنو په منځ کې لوړه ده، ځکه چې دوی تر هر چا زیات د هوایي بریدونو د تهدید سره مخامخ دي. اوس نو د هغه ټول وژنې او الودګۍ عظمت تصور کړئ چې د دغه وحشت په سبب رامنځ ته شوی دی.

د انفرادي وژنو قضیې دومره زیات دي چې سړی نشي کولای چې هغه ذکر کړي. په هر حال، زه باید دیته اشاره وکړم چې امریکایي ځواکونه لومړي ویشتل کوي او بیا پوښتي.

ډېرې افغانان یوائې د شکمنتیا له وجې ویشتل شوي دي. په اکثرو پېښنو کې داسې شوي چې یا خو ویشتل شوی کس کار ته روان وو او یا هم له کاره بېرته راستون شوی وو. د امریکایي ځواکونو د تر ټولو جدي کړنو ځنې، د پښتنو د ژوند، درنښت او خلوت په اړه ددوي بدګماني ده. د امریکایي ځواکونو کړنې د جنوبي افریقا د (تور پوستو او سپین پوستو د بېلوالي) د زمانې د پولیسو کړنو ته ورته دي چې د تور پوستو افریقایانو او هندیانو کورونو ته به د هغوي د درنښت په نظر کې نیولو نه پرته د هغوي کورونو ته ددننه کېدل.

بله دا چې کله دوي غواړي چې په شپه کې، کله چې ټول خلک په درانه خوب ویده وي، په یوې سیمې حمله کوي، د دوي کړنې د غلو په شان وي. د خلکو کورونه په چاویدونکو موادو الوزوي او بیا د هغوي کورونو ته ورننوځي او بیا سړي او هلکان د هغوي د ښځو او ماشومانو پروړاندې له بسترې نه راپورته کوي او راکاږي یې، اکثره وختونه مخکې له دینه چې دوي غواړي چې څوک د خوب له بسترې نه را پورته کړي، خپلو جنګي سپیو ته امر کوي چې مخکې لدینه چې دغه خلک له خپلو خونو څخه ووځي، وداړي. په پایله کې ډېری ماشومان د مرګ تر بریده پورې داړول شوي دي. ډېری وختونه کله چې خلک داړول شوي دي، بیا د سرتېرو لخوا له یوې مخې ویشتل شوي دي. د لغمان په ولایت کې یو سړي یوه پېښه دارنګه نکل کړه:

* یوه شپه امریکایان زمونږ کورته راننوتل، خپلو جنګي سپیو ته یې د داړلو امر وکړ او تر هغه وروسته یې زما ورور او زوي وویشته. زه ویده وم، کله چې راپورته شوم، یو سپې مې پر سر ولاړ وو او زه یې وداړلم. په همدې ډول سره سپي زما د ورور او زوي جسدونه هم یو ځای ته راوړه. مونږ ډېر سخت ډار شوي وو او بیا له خپل کلي نه ووتو*

یوه بله پېښه د ۲۰۰۸ کال د دسامبر په نیمایي کې په خوست کې وشوه ، چې د امریکایي ځواکونو په واسطه د ډاکتر بلال په کور حمله وه. امریکایي ځواکونو په غلتۍ سره ګمان کاوه چې ګوندي هغه د القاده له ډلې سره تړاو لري، دا په داسې حال کې وو چې هغه د ولایت د صحي ادارې سره کار کاوه. AFP په لاندې ډول راپور ورکړی وو:

*امریکایان له اخطار پرته ننوتي وو. په لومړي سر کې یې زما یو ورارہ (امین) چې ۱۴ کلن وو او د ټوپک تر څنګ ویده وو، وواژه. زما ورور له ټوپک سره بهر وتی وو. هغه هم لکه د خپلې مېرمنې چې د هغه پسې وتې وو، ویشتل شوی وو.

يوه خينه مې د ملا د تير په برخه کې ويشتل شوې وه چې اوس هم فلج ده. بيا يې خپل سپي خوشې کړه. سپو په جسدونو باندې حمله وکړه او زما څو ګوتې يې هم وداړلې. سپو بيا يوه ښځه او يو پنځه کلن ماشوم هم وداړلو. بيا يې زما شته او هغه وسلې چې د خپل ځان د دفاع لپاره مو ترې ګټه اخسته، له ځانه سره يوړه. حتى دوي زمونږ د جايدادونو پاڼې هم له ځانه سره يوړې... دوي ولې دا کار وکړه؟*

دغه ډول پېښې په کراتو کراتو پېښې شوي دي.

اړيکه:

http://www.afghanistannewscenter.com/news/2009/february/feb22009.html#3

پوښتنه داده چې ولې يوازې پښتانه په ځانګړي توګه هدف قرار نيسي؟ يو ځواب کېداى شي چې د امريکايي ځواکونو د نژاد پرستۍ زهنيت وي. په هر حال، ويل کيږي چې پښتانه د افغانستان ساتونکي دي او د تاريخ په اوږدو کې يې د افغانستان د خپلواکۍ نه دفاع کړېده. تر کومه چې پښتانه د يو قوي ځواک په توګه پاتې شي، نه يوازې دا چې د امريکا او ناټو اتحاد به بريالي نشي، بلکه د يو مطلق ماتې شاهدان به وي.

په اکثرو مواردو کې نور ځواکونه وحشتناک چلند هم کوي. په هر حال، ښکاري چې امريايي فوځ به د تش په نامه دموکراته ټولنو له ډلې نه تر ټولو بد تېرى کونکى ځواک وي.

# په تاجکو او نورو لږکيو باندې د امريکا ترحده زيات باور

د ۹/۱۱ په ماښام، کله چې تاجک افغانان، کوم چې د شمالي وحشي او زناکارې ټلوالې سره تړلي ول، او يا د دغو مجرمينو سره يې مرسته کړې وه چې د بوش د ادارې په لور قدم واخلي، غوښتل يې چې دوه کارونه سرته ورسوي:

لومړى:

دا يوه موکه وه چې پښتانه، چې د افغانستان اکثريت تشکيلوي، له منځه يوسي. د شمالي ټلوالې دغه عناصر په ۱۹۹۲ کې د طالبانو په واسطه هله رانسکوره شول چې د افغانستان په تاريخ کې يې تر ټولو بې رحمه او وحشي اعمال سرته ورساوه. شمالي ټلواله له جنګي مجرمينو ، زناکارو او د بشري حقوقو له تيري کوونکو نه جوړه شوې وه. د شمالي ټلوالې د دورې پرمهال سلګونه ښځې ورکې شوې.

دوهم:

دوي ته د اجیرانو په توګه د دوي د دندو وړاندې کولو سره شمالي ټلواله غوښتله چې د حالاتو نه په ګټې اخستنې سره د طالبانو نه وروسته کنترول په خپل لاس کې واخلي. د ستر هوايي ځواک او د پرلپسې، پراخ او یوشان هوايي بمباریو سره سره، بیا هم شمالي ټلواله ونشو کولای چې د پلازمېنې کابل په ۱۵۰ کیلو مترې کې د طالبانو دفاع له منځه یوسي. له ۴۵ ورځني بمبار نه وروسته طالبانو پرېکړه وکړه چې کلیوالو سیمو ته په شا شي.

د طالبانو له په شاتګ سره سم د شمالي ټلوالې ځواکونه کابل ته ننوتل. د دوي لوموړنې کاري اجنډا دا وه چې اکثره ملکي پښتانه له دندو ګوښه کړي. په ۲۳٪ اکثریت باندې د ۳۷٪ مرکبو لږکیو تحمیل د پښتنو ترمنځ غوصه راوپاروله. د یادونې وړ ده چې د CIA د (د نړې د حقایقو کتاب) هله له مخې ناسم ثابتیږي چې کله په افغانستان کې د پښتنو سلنه ښکاره کوي. ډاکتر ذکریا خپل تحلیل د غلطې احصایې په اړه په لاندې ډول ښکاره کړی دی:

*تر ۱۹۹۱ میلادي کاله پورې د (څرګند استخبارات) دغه بڼه پښتانه د افغانستان اکثریت ښوولی (د ژبې او ملیت له مخې ۵۰٪). په ۱۹۹۲ میلادي کال کې، تقریباً یو کال وروسته، شمالي ټلواله (د مسعود او رباني ډله) په کابل کې د واک واګې په لاس کې واخسته. په ۱۹۹۲ میلادي کال کې د نړۍ د حقایقو کتاب په افغانستان کې د پښتون قام او پښتو ژبې د سلنې ډېره زیاته ټیټه احصایه وړاندې کړه:

د ملیت له مخې ۳۸٪ او د ژبې په له مخې ۳۵٪. د ۲۰۰۹ کال د نړې د حقایقو د کتاب احصایوي مالومات د پښتنو په سلنه کې یو پرمختګ ښیي. دغه کتاب پښتانه د ملیت له مخې ۴۲٪ لوړه کړېده، مګر د ژبې له مخې لا ۳۵٪ پاتې شوی دی*

ذکریا د (واک فاونډیشن) د پلټنو له مرکز سره د یو ځای کېدو سره سم، په افغانستان کې د پښتنو د سمې سلنې احصایه وړاندې کړه:

* د یو ریکارډ په خاطر، په افغانستان کې د واک فاونډیشن لخوا یوه شپږ کلنه سروې (۱۹۹۲-۱۹۹۱) سرته ورسېده چې پایله یې په ۱۹۹۸ میلادي کال کې چې د ۱۳۷۷ هجري لمریز کال سره سمون لري، نشر شوه. د دغه منبع پر بنسټ، د پښتانه د افغانستان د ټولو وګړو ۲۲،۷۳٪ سلنه د ملیت له مخې او ۵۵٪ د ژبې له مخې برابروي*

د CIA د حقایقو د کتاب د دروغجنو څرګندونو د بیلګو پر بنسټ، په ټېنګه توګه د پښتنو په اړه ناسم مالومات وړاندې کوي. او بې له شکه ویلای شو چې د پښتون پر ضد یوه نړیواله توطیه شتون لري. همدا وجه ده چې په پاکستان او افغانستان کې پښتانه وژل کیږي.

د متحده آیالاتو د یرغل په سبب د شمالي افغانستان زیاترې برخې له پښتنو نه پاکې شوې وې. چېرته چې د لږکیو تاجکو اکثریت ژوند کوي. د پښتنو جایدادونه ضبط شوي وو. ۳۰۰۰۰۰ پښتانه مجبور کړای شوي وو چې ګاونډي پاکستان ته مهاجر شي. دغه خلک د امریکې او د ګوډاګي شمالي ټلوالې پروړاندې د طالبانو د بغاوت د ملا تیر تشکیل کړه.

ظمناً؛ تاجک او نور افغان لړکيو د ترجماني لپاره قطارونه جوړول او درواغ به يې ويل چې پښتو خبرې کولای شي. دغو خلکو قصداً او ځينو نورو بيا په پښتو د نه پوهېدو له وجې په ټولو پښتنو باندې چې د امريکايانو په واسطه نيول شوي ول، د القاعدې او طالبانو ټاپه لړوله کېده. همدا وجه وه چې د ګوانتانامو د جهيل تر ټولو کوچنی بندي ۱۱ کلن ماشوم وو. د پښتنو په اړه د امريکايانو ناسم زهنيت او د تاجکو او نورو لړکيو دښمني د ډېرو غميزو لامل شوی دی. ډېرې بې ګناه پښتانه په باګرام کې شکنجه شوي او وژل شوي دي.

کيدای شي چې لوستونکي وپوښتي چې ولې تاجکان له پښتنو سره دارنګه دښمني لري. ځواب دادی چې دوي اکثره کسبګر، ډمان او د منځنۍ آسيا هغه مهاجر دي چې په افغانستان کې له خپله ژونده ناراضه ول. لکه د نړۍ د نورو برخو د لړکيو په شان دوي هم غوښتل چې په هيواد کې د واک واګې په لاس کې واخلي. په هر حال؛ دوي د پښتنو په قميت واک ته رسيدل غوښتل.

بالاخره، کا پښتنو غوښتل او که نه، مګر د خپل خق د دفاع لپاره د طالبانو سره يوځای شول. ددې سره دواړه، امريکا او د هغه ګوډاګيان د دوي هدف وګرځېدل. په همدا حال کې افغان ملي اردو که څه هم کلکه ملي جنبه لري، مګر بيا هم د تاجک قمندانانو د سخت نفوذ لاندې دی. د ملي اردو زياتره قمندانان تاجک دي. همداشان اوسنی ولسمشر، چې له قندهاره دی، زياته هڅه کوي چې د شمالي ټلوالې مجرم عناصر په داسې بڼه خوشحاله کړي چې پښتون او پښتو له نظره غورځوي او د هغوي ژبې ته د رسمي ژبې په توګه قانوني بڼه ورکړي. همدا وجه ده چې ګمان کيږي چې کرزی نيمه پښتون دی. د هغه د ماماګانو اغيزه چې قزلباش دي، هغه له خپلې ژبې نه ګوښه کړی دی. اوس نو په څرګنده توګه ويلای شو چې پښتانه کوښښ کوي چې د ډول ډول څرګندونو په وړاندې کولو سره د کرزي بې تفاوتي ثابته کړي.

دغه ظلم او ستم پښتانه اړباسي چې د امريکا او په کابل کې د هغه نصب شوی رجيم سره وجنګيږي.

اړيکه

http://www.sabawoon.com/articles/index.php?page=kite_runner
http://www.atimes.com/atimes/South_Asia/KL01Df02.html

# د پښتنې کلتور نه د امريکايانو ناخبري

له پښتنې کلتور نه د امريکايي ځواکونو ناخبري يو بل فکتور دی چې په افغانستان کې د امريکا ماتې يقيني کوي. دوه منابع دي چې په کې دغه ناخبري د امريکا او د هغه د متحدينو پر وړاندې د پښتنو دښمني دوامداره کوي.

لومړی:

اوله ستونزه قبیلوي جوړښت او د قبیلو ترمنځ ګډ د فاعي تړاو دی. کله چې د یوې قبیلی یو تن د کوم چا له لوري وژل کیږي، قاتل نه تنها د مقتول د کورنۍ دښمني پرغاړه اخلي، بلکه د هغه کلي د ټولو او سیدونکو دښمني یې غاړې ته لویږي. په همدې ډول، امریکایي فوځونو د کلو او قبیلو په سلګونو او زرګونو غړو د وژلو په خاطر هغوی د ځان دښمنان کړل.

دوهم:

دوهمه منبع د پښتونولۍ اصول او یا د پښتنو د درناوي قوانین دي. دا د انتقام اصول دي، کوم چې د قبیلوي تړاو له لارې له یو نه بل ته لیږدول کیږي. د یو پښتون پلار، ورور، زوی، خپلوان او کلیوال باید د خپلو خپلوانو د مرګ کسات واخلي. وایي چې یو پښتون سل کاله وروستو خپل بدل اخستی وو، نو ویل یې: *ما تادي وکړه*. دا د دښمنۍ دوام ښيي.

# د متحده آیالاتو د شکست پر تابوت باندې د وروستي میخونو خښول.

د نوو ستراتیژیکو پلانونو په جوړولو کې د امریکا سیاستوال او فوځي مشران د افغاني ټولنې نه، په ځانګړي توګه د پښتنو له کلتور نه بې خبره ول. پښتنو ته د ضربه ورکولو مانا د امریکا او د هغې د متحدینو لخوا د دوي د توهینولو دوام دی. دا په دې مانا ده چې ډیر افغانان به ومري. دا د پښتنو د کورونو خلوت ته د نه پاملرنې مانا هم ورکوي. په حقیقت کې پښتانه دا د سیاسي او فوځې مشرانو له لوري یو تصدیق ګڼي چې ګوندي دوي په تېرو اتو کلونو کې کوم کارونه کړيدي، هغه جرم ندی، بلکه دا یوه نیکي ده. دا د دوي د پرهرونو سپکاوی دی.

ددې نه غېر، دا به د افغاني بغاوت او د هغوي د تمویلوونکو تحلیل لوړ کړي. په عین حال کې باغیان د روسي نوو راکټونو او آګایزو د لاسته راوړلو کوښښ کوي. په پخوا وختونو کې به افغان مجاهدینو RPG7 کارولو ،اګر که دغه وسله د ناټو د زرې پرو ړاندې اغیزمن ندی، نو ځکه تر ټولو اغېزمنه وسله به RPG32 وي، کوم چې د ناټو او امریکې د ټولو زره موټرو او ټانکونو نه تېرېږي. ددې نه برعلاوه، باغیان کوښښ کوي چې SAM7 چې یو د الوتکې ضد توغندی دی او پر اوږه نقلیږي، لاسته راوړي. دا به په افغانستان کې د متحده آیالاتو د شکست پر تابوت وروستي میخونه وي چې ټک وهل شي.

ما بیهوده کوښښ کړی دی چې په افغانستان کې د دایمي سولې د ټینګښت لپاره، خپل د سولې د وړاندیز سره د امریکې د متحده آیالاتو د سیاسي او فوځي مشرانو پام راواړوم. مګر له بده مرغه دوي

په زیاترو برخو کې خپله دلچسپي ونه ښودله. زما وړاندیز *په افغانستان کې د تل پاتې سولې لپاره سپین لیک* یوې تلپاتې سولې ته د افغانستان د رسېدو یوه پراخه لاره ده.

د فوځي او سیاسي رهبریت د پیټې نه د راوتو وروسته، ما داسې ګڼله چې دا باید د قرارداد په چوکاټ کې ډېر مالي ګټه وکړي او یا هم خپل حالت ته ببرته راوګرځي. برعکس، دا به ساده وي چې د جنګ پر ځای سولې ته د رسېدو هڅه وکړو، په ځانګړي توګه هله چې یاغي توب پوره توانمند شوی دی.

## پایله

پورته یاد شوي فکتورونه د قتل او نفرت نمونې خلاصه کوي. دغه نمونې د امریکا او د هغه د متحدینو د ښمنۍ او نفرت د دوام سره مرسته کوي. ذکر شوي تیري د امریکایي فوځونو په اعمالو کې رښتینولي ښیي. او د امریکا او ناټو په اتحاد کې د ستر وحشت او محکومیت ننبې دي.

په پایله کې د ښاغلي اوباما هغه وینا چې په ناورۍ کې یې وکړه او په افغانستان کې یې د غې ټول وژنې ته د (انصاف جګړه) یا (هغه جګړه چې د یو هیواد د وګړو لخوا یې ملاتړ کیږي)، نسبت وکړه، د خلکو پر پرهرونو د مالګې دوړول دي. د نوبل جایزه د داسې یو هیواد مشر ته ورکول چې په فعاله توګه افغانان وژني او د یورانیمي وسلو په دوامداره توګه کارولو سره د هغوي چاپیریال د هستوګنې لپاره نامناسب ګرځوي، په انصاف باندې ملنډې دي، دا داسې یو عمل دی چې باید په نړیواله توګه محکوم شي. بله دا چې د نوبل د جایزې ورکړه د غربي ټولنې لخوا د پښتنو د ټول وژنې د روا والي قاطع اظهار دی. او دا هغه فرضیه ځواکمنه کوي چې د تروریزم جګړه په ځینو برخو کې د پښتون قام پر ضد یوه نړیواله توطیه ده.

اړیکه:

www.sabawoon.com/articles/index.php?page=home /
www.rense.com/general88/whitep.htm

لیکوال: پروفیسور محمد داود میکرکي

ژباړن: شیرین اغا جهانګیر

۱۷-۰۱-۲۰۱۰

رباط سنګی هرات